(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net



# Afghan Youth Debates: Challenges Facing Women

Zabihullah Ghazi **:Author**

**ه افغانستان کې د ذبیح الله غازي لیکنه**

د آی ډبلیو پي آر په یوې مناظرې کې واورېدل شول چې د ننگرهار ولایت زرگونه ښځې په بشپړ ډول د اپرېل د میاشتې له ټاکنو څخه بې خبره پاتې شوې دي او په هغې کې به گډون ونه کړای شي.

نوموړې مناظره د دسمبر د میاشتې په ۲۶په ختیځ ښار، جلال آباد کې د سلو تنو ښځینه محصلانو لپاره جوړه شوې وه. په غونډه کې پام د اپرېل د پنځمې نېټې ولسمشریزو او ولایتي شوراگانو په ټاکنو کې د رایه ورکوونکو ښځو په وړاندې پرتو ستونزو ته اړول شوی و.

د ننگرهار د ولایتي شورا غړې، محترمې امین وویل، د عمومي خبرتیا پروگرامونو په سیمه کې ښځینه رایه ورکوونکو ته هیڅ هم ونه کړل او د افغانستان د ټاکنو پر خپلواک کمیسون یې په دې کار کې د پاتې راتگ پړه واچوله.

امین وپوښتل: "داسې ښځې شته چې بیخي له ټاکنو خبرې نه دي. څنگه به هغوی په [ټاکنو کې] گډون وکړي؟"

هغې غونډې ته وویل، آن هغه شمېر ښځې چې له رایې ورکولو څخه خبرې هم دي، خپلې رایې نشي کارولای.

د سلگ‌ په نامه یوې محصلې وویل، مور یې د امنیتي اندېښنو له امله هغه د رایې له ورکولو څخه منع کړې ده.

هغې وویل: "مور مې راته وویل په ټاکنو کې به برخه نه اخلې؛ ځکه بې له هغې به دې څوک رایه ونه شماري."

په نوموړي ولایت کې د اسما نیاز‌ په نامه د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسون استازې وویل، له رسمي شمېرنو داسې برېښي، د رایې ورکولو ۳۵ سلنه ویشل شوي کارتونه، چې د رایې ورکولو قانوني پاڼې دي، په ننگرهار کې ښځو ته ورکړل شوي دي.

د ننگرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو استاد، منگل شېرزاد وویل، دا یوازې ښځې نه دي چې رایې به ورنه کړي. هغه وویل، پخوانۍ ټاکنې دومره له فساده ډکې او نا امنه وې چې زیات شمېر نارینه گانو له خپل گډون څخه خه په لاس راونه وړل.

د ننگرهار د پولیسو د قوماندانۍ ویاند، علي محمد سنگر غونډې ته وویل، هغه باوري دی چې آن په ناامنه سیمو کې به د رایو ورکولو پر مهال امنیت ډاډمن وي.

هغه وویل: "امنیتي پوځونه چمتو دي چې د پچیر او اگام، چپرهار او نورو ناامنو سیمو امنیت تامین کړي."

**ذبیح الله غازي په ننگرهار کې د آی ډبلیو پي آر له خوا یو روزل شوی خبریال دی.**

*دا رپوټ د آزاد فکر: خبرې وکړئ، لاسته یې راوړئ -د آی ډبلیو پي آر د نوښت له مخې په کابل کې د امریکا د متحده ایالتونو د سفارت په مالي مرسته په افغاني ټاکنو کې د پوهنتون او ځوانانو د گډون د پراختیا د پروگرام د یوې برخې په توگه چمتو شوی دی.*

افغانستان **:Location**
Elections **:Topic**

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/afghan-youth-debates-challenges-facing-women